# معلومات پاڼه

## د COVID-19 (**Co**rona **Vi**rus **D**isease 2019) پروړاندې محافظتي واکسینونو لپاره

## - د mRNA واکسین سره -

نیټه: د 2020 دسمبر 22 (دا معلومات پاڼه په دوامداره ډول تازه کیږي)

د واکسین کیدونکي شخص نوم: ________________________________________

(مهرباني وکړئ په غټو تورو یې ولیکئ)

د زیږون نیټه: ______________________

### COVID-19 څه شی دی؟

د کرونا ویرسونه د لسیزو راهیسې پیژندل شوي دي. د کرونا نوی ویروس، کروناویروس – سارس 2 (SARS-CoV-2) چې د COVID-19 ناروغی (د 2019 کال د کرونا ویروس ناروغي) رامینځته کونکی عامل دی، د 2020/2019 کال وروستیو راهیسې په ټوله نړۍ کې د خپریدو په حال کې دی.

د COVID-19 ښکاره علایمو کې وچ ټوخی، تبه (د 38 سانتي ګرېډ درجې نه لوړه)، ساه لنډی او همدارنګه د بوی او خوند حس له لاسه ورکول شامل دي. د ناروغۍ عمومي احساس سره د سردرد او د بدن درد، د ستوني درد او د پزې بهیدل هم مل کیدی شي. په ځینې مواردو کې ناروغان د معدې او کولمو درد، د بندونو پړسوب او د لنفاوي غدو پړسوب شکایت هم کوي. وریسي د عصبي سیسټم یا د زړه عروقي او همدارنګه د اوږدمهاله ناروغیو امکان شتون لري. که څه هم د ناروغۍ خفیف علامې عام دي او ډیری ناروغان په بشپړ ډول ښه کیږي، مګر د سږو د پړسوب او سینه بغل شدید ناروغي په صورت کې د سږو د کار پرېښودو له امله د مړینې ویره شتون لري.

د AHA + A + L مقرراتو (د واټن ساتل، د نظافت په پام کې نیول، هره ورځ د ماسک اغوستل، د کرونا د خبرداري برنامې ډاونلوډ، منظم تهویه) په رعایت کولو سره د عفونیت نه د مخنیوي سربیره، واکسین د دې ناروغۍ پروړاندې ترټولو غوره ممکن محافظت لري.

### کوم ډول واکسین کارول کیږي؟

د mRNA-COVID-19 (Comirnaty®) واکسین چې دلته یې یادونه شوې ده د ژنټیک مهندسي سره تولید شوی او د نوي ټیکنالوژۍ پربنسټ واکسین دی. د mRNA نور واکسینونه د ازمینت په حال کې دي، مګر تراوسه پورې تایید شوی ندی.

mRNA (د RNA پیغام رسونکی یا د ریبونوکلئیک پیغام رسونکی) په بدن کې د هر پروټین لپاره یو د "جوړښت طرزالعمل" دی او باید د انسان د ژنټیکي معلوماتو - DNA- سره یې تیروتنه ونشي. د COVID-19 پروړاندې د mRNA واکسین د ویروس یوه واحد جز (د سپایک په نوم پروټین) لپاره د "جوړښت طرزالعمل" لري. دا سپایک پروټین پخپله بې ضرر دی. نو د همدې لپاره دا واکسین عفوني ندی.

په واکسین کې موجود mRNA د انسان ژنوم کې نه ځای په ځای کیږي، بلکه څو ورځې وروسته په بدن کې تجزیه کیږي. دې پسې وروسته نور بیا د ویروس پروټین نه تولیدیږي.

د سپایک پروټینونه چې د واکسین نه وروسته د بدن په واسطه جوړیږي (په عضلاتي سلولونو کې د واکسین ځای کې او ځینې ځانګړي دفاعي سلولونو کې) د بدن د خوندیتوب سیسټم په واسطه د بهرني پروټین په توګه پیژندل کیږي چې په پایله کې یې ځانګړي دفاعي سلولونه فعالیږي: د ویروس پروړاندې انټي باډي او دفاعي سلولونه جوړیږي. دا د خوندیتوب ساتونکی غبرګون رامینځته کوي.

د واکسین په واسطه د کافي محافظت لپاره، دا واکسین باید د 3 اونیو په واټن سره دوه ځله تزریق شي. دا واکسین د مټ پورتنۍ عضله کې کیږي.

**واکسین څومره اغیزناک دي؟**

د واکسین 2مې مرحلې نه 7 ورځې وروسته د واکسین په واسطه کافي محافظت پیل کیږي. د اوسنی پوهې په پام کې نیولو سره، د 100 واکسین شوي نفرو نه شاوخوا 95 نفر د ناروغۍ پرورږاندې محافظت کیږي. اوسمهال دا چې دغه محافظت به څومره موده دوام کوي، مشخص ندي. لدې چې د واکسین کیدو نه سمدستي وروسته محافظت نه پیل کیږي او د ټولو افرادو لپاره واکسینو ته لاسرسی نشته، نو لازمي ده چې د واکسین سربیره، د AHA + A + L مقرراتو په رعایت کولو سره د خپل ځان او خپل چاپیریال نه ساتنه وکړو.

**څوک په ځانګړي توګه د واکسین نه ګټه اخلي؟**

د COVID-19-mRNA واکسین د 16 کلنۍ عمر څخه افرادو لپاره مجاز دي او په مینځمهال کې همدا هدف لرو چې وکولی شو د 16 کلونو نه ډیر عمر لرونکي افرادو لپاره د COVID-19 پرورږاندې واکسین برابر کړو. سره لدې، دا چې د پیل نه د ټولو خلکو لپاره کافي مقدار واکسین شتون نلري، د هغه افرادو واکسین کول باید لومړیتوب ولري چې د COVID-19 له امله د خورا ډیر یا وژونکي ناروغۍ خطر سره مخ يي (یا په ځانګړې توګه د پاخه او ډیر عمر خلک)، یا هغه خلک چې د خپلې دندې له امله SARS-CoV-2 باندې اخته کیدو ځانګړي خطر سره مخ يي یا د خپلې دندې له امله د COVID-19 ګواښ سره مخ افرادو سره په اړیکه کې يي. دا د STIKO (د رابرټ کخ انستیتیوټ کې د واکسینو دایمي کمیسون) ارزونه ده چې د وضعیت راپور په پام کې نیولو سره د آلمان د اخلاقو شورا او Leopoldina سره په ګډه چمتو شوې ده.

**څوک باید واکسین نشي؟**

د 16 کلونو نه کم عمر لرونکي ماشومان او ځوانان چې اوسمهال د هغوی لپاره واکسین مجاز ندي، باید واکسین نشي. لدې چې لاهم پدې تړاو کافي تجربه شتون نلري، د حمل یا بلاربتوب او ماشوم ته د تي ورکولو پرمهال اوس دا واکسین یوازې د خطر – ګټې د کچې فردي ارزونې سره توصیه کیږي.

هر څوک چې د 38.5 درجه سانتي ګریډ نه لوړې تبې سره کومه حاد ناروغي ولري، باید یوازې د ښه کیدو نه وروسته واکسین شي. سره لدې، ساړه یا یوڅه لوړ حرارت درجه (د 38.5 نه ټیټ درجه سانتي ګریډ) د واکسین ځنډولو لپاره دلیل ندی. که د واکسین د اجزاو په نسبت لوړ حساسیت لرئ، باید واکسین نشئ: که الرژي لرئ، مهرباني وکړئ د واکسین نه مخکې واکسین کونکي ډاکټر ته خبر ورکړئ.

هغه افراد چې مخکې په نوي کرونا ویروس اخته کیدل یې تایید شوي، په پیل کې اړ ندي واکسین شي، مګر دا د واکسین سره مخالفت په معنی نده.

**د واکسین نه مخکې او وروسته باید څه کار وکړئ؟**

که چیرې د مخکیني واکسین یا بل تزریق نه وروسته شدید بې هوش شئ یا سمدلاسې الرژي ولرئ، مهرباني وکړئ د واکسین کولو نه مخکې واکسین کونکي ډاکټر ته خبر ورکړئ. وروسته بیا هغه کولی شي د واکسین نه وروسته تاسې ښه د پام لاندې ونیسي.

د نورو واکسینونو نه باید لږترلږه 14 ورځې واټن ولري.

د واکسین نه وروسته، اړتیا نشته چې د خپل ځان کومه ځانګړې پاملرنه وکړئ.

د واکسین نه وروسته د درد یا تبې پیدا کیدو په صورت کې ("د واکسین کولو نه وروسته د واکسین کوم ممکن غبرګونونه پیښیدی شي؟" وګورئ)، د درد اړامونکي/د تبې کمونکي درمل (د مثال په توګه پراستامول) وخورئ. د کورنۍ ډاکټر مو کولی شي پدې لړ کې تاسې ته مشوره درکړي.

**د واکسین کولو نه وروسته د واکسین کوم ممکن غبرګونونه پیښیدی شي؟**

د mRNA (Comirnaty®) واکسین سره د واکسین کیدو نه وروسته، کیدی شي موضعي او عمومي غبرګونونه د واکسین سره د بدن د شخړې ځرګندیدل یې. دا غبرګونونه عموماً د واکسین کولو نه وروسته 2 ورځو په لړ کې راښکاره کیږي او په ندرت سره 1 نه تر 2 ورځو پورې دوام کوي.

د ځارنې دوه میاشتو کې ډیر راپور ورکړل شوي غبرګونونو کې تر اوسه دا موارد شامل و: د تزریق ځای کې درد (د 80% نه ډیر)، ستړیا (د 60% نه ډیر)، سردرد او لړزیدل (د 30% نه ډیر)، د مفصلونو درد (د 20% نه ډیر)، تبه او د تزریق ځای کې پړسوب (د 10% نه ډیر). نردې (د 1% تر 10% پورې) ته زړه بدی پیدا کیږي او د تزریق ځای سور کیږي. ځینې وختونه (د 0.1% تر 1% پورې) د لنفاوي غدې پړسوب، بې خوبي، په مټ یا پښه کې درد، د تزریق ځای کې ناراحتي او خارښ شتون لري.

ډیری غبرګونونه د ځوان افرادو په پرتله پوخ او ډیر عمر لرونکي افرادو کې یوڅه کم دي. د واکسین غبرګونونه عموماً خفیف یا متوسط دي او د دوهم ځل واکسین کیدو نه وروسته غبرګونونه یوڅه ډیر پیښیږي.

**آیا د واکسین عوارض امکان لري؟**

د واکسین عوارض د واکسین پایلې دي چې د واکسین د طبیعي حد غبرګون نه ورهاخوا یې او د واکسین شوي فرد روغتیا باندې پام وړ اغیزه لري.

د تایید نه مخکې پراخه کلینیکي ازمیښتونو کې، دلته ورکړل شوی د mRNA (Comirnaty®) واکسین د ورکولو وروسته، د حاد فلج 4 موارد (د 0.1% او 0.01% ترمینځ) مشاهده شوي دي. دا چې آیا د دې لامل واکسین پورې تړاو لري که نه د ارزونې لاندې دي. نور هیڅ جدي عوارض په کلینیکي مطالعاتو کې ندي لیدل شوي. د واکسین د پیل راهیسې، د خورا ډیر حساسیت غبرګونونه په ندرت سره راپور شوي دي. دا لړ موارد د واکسین نه وروسته پیښ شوي او روغتیایي درملنې ته یې اړتیا وه. په اصل کې، د ټولو واکسینونو په څیر، نشو کولی داسې وکړو چې نور عوارض شتون نلري.

که چیرې د واکسین کیدو نه وروسته داسې علامې ځرګندې شي چې د لنډمهاله ځایی او پورته ذکر شوي عمومي غبرګونونو نه ورهاخوا یې، نو د کورنۍ ډاکټر به د مشورې لپاره هرو مرو ستاسې لپاره موجود یې. د شدید اختلالاتو د ښکاره کیدو په صورت کې، سمدلاسه د درملنې لټه وکړئ.

همدارنګه کلی شئ د خپلو جانبي عوارضو راپور ورکړئ: https://nebenwirkungen.bund.de

| |
|---|
| د دي معلوماتو پاڼي نه علاوه، ستاسي واکسين کونکی ډاکټر تاسي ته يو معلوماتي بحث هم وړاندي کوي. |

توضی:

| | |
|---|---|
| د واکسين کونکي ډاکټر لاسليک | د واکسين کيدونکي شخص لاسليک (یا د قانوني استازي لاسليک) |

د Paul Ehrlich (PEI) موسسه اوسمهال د ګرځنده ځيرک تليفون SafeVac 2.0 اپليکيشن په کارولو سره د نوي کرونا ويروس (SARS-CoV-2) پروړاندي د محافظت لپاره د واکسينونو د تحمل يا زغملو په اړه يوه ټولپوښتنه ترسره کوي. ټولپوښتنه داوطلبانه ده.

د COVID-19 په اړه او د COVID-19 واکسينونو په اړه نور معلومات په
https://www.zusammengegencorona.de/informieren/informationen-zum-impfen/ ويب سايټ کي موندلی شئ

https://www.bzga.de/

www.rki.de/covid-19-impfen

https://www.pei.de/DE/newsroom/dossier/coronavirus/coronavirus-inhalt.html

1 چاپ 002 نسخه (نيټه د 2020 دسمبر 22)

د مسؤليت نه ډډه کول

د معلوماتو پاڼې اصلي نسخه (2018/06) د رابرټ کخ موسسي لپاره د آلمان د شنه صليب (ثبت شوي انجمن) دوستانه اجازې سره د رابرټ کخ موسسي په مرسته ژباړل شوې ده. آلماني متن معتبر دی؛ په اصلي آلماني ژبې نسخه کې د سمون يا بدلون په صورت کې د ژباړې تيروتنو يا اوسنی ژباړې پورې اړوند هيڅ ډول مسؤليت په غاړه نه اخيستل کيږي.

د mRNA واکسین سره - د COVID-19 پروړاندي د واکسینونو په تړاو د ناروغ مخینه

**1. آیا اوسمهال د تبې سره اد ناروغي لرئ؟**

0 هو 0 نه

**2. آیا تاسي د مزمن ناروغیو یا د خوندیتوب نقص نه کړیږئ (د مثال په توګه د کیمیاوي درملني یا نورو درملو له لارې)؟**

0 هو 0 نه

د مثبت ځواب په صورت کې، کوم ډول ________________________________________

**3. آیا تاسي د ویني بهیدو اختلال لرئ یا د ویني نروبونکي درمل خورئ؟**

0 هو 0 نه

**4. آیا تاسي* پیژندل شوي الرژي لرئ؟**

0 هو 0 نه

د مثبت ځواب په صورت کې، کوم ډول ________________________________________

**5. آیا* د مخکیني واکسین نه مخکې مو د الرژي، لوړې تبې، بې هوشئ، یا نورو غیر معمول غبرګونونو علامې درلودلې؟**

0 هو 0 نه

د مثبت ځواب په صورت کې، کوم ډول ________________________________________

**6. په ښځو کې د بلاربتوب عمرونو کې: آیا اوسمهال بلاربه یې یا ماشوم ته تی ورکوې؟**

0 هو 0 نه

**7. آیا په تیرو 14 ورځو کې واکسین شوي یې؟**

0 هو 0 نه

* که لازمي وي د قانوني استازي لخوا ځواب ورکول کیږي

# رضایت لیک د mRNA واکسین سره – د COVID-19 پروړاندې د واکسینونو په تړاو

د واکسین کیدونکي شخص نوم (تخلص، نوم):

______________________________________________

د زیږون نیټه: ________________

پته: ________________________________________

ما د معلوماتو پاڼي مینځپانګه کتلې ده او د دې امکان مې درلود چې د خپل واکسین کونکي ډاکټر سره تفصیلي خبرې وکړم.

نورې پوښتنې نلرم.

زه د mRNA واکسین سره د COVID-19 پروړاندې سپارښتنه شوې واکسین په تړاو رضایت لرم.

زه د واکسین کیدو نه ډډه کوم.

زه په صراحت د روغتیایی پوهاوي مشورې نه ډډه کوم.

توضی:

ځای، نیټه: ____________________________

د واکسین کیدونکي شخص لاسلیک
یا هم قانوني استازی
(سرپرست، قانوني سرپرست یا پاملرنه کونکی)

د ډاکټر لاسلیک